سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۹ / ۰۷ / ۲۱

# ستونزه شعر ویلو کې نه ده، درد له بل ځای دی!

ویل کیږي، ولسمشر غني ورمه ورځ«افغانستان ګهواره ی زبان فارسي – دري» تر سرلیک لاندې سیمنار کې د خبرو په ترڅ کې د مولانا بلخي کوم شعر په اشتبا سره ویلی دی او د ځینو په ګومان، بویه نه بخښوونکې تېروتنه یې کړې ده. دې لړ کې یو تن ولسمشر ته د «مشوره مفید» په نوم د لاربښوونو او سپارښتونو لوی لیست وړاندې کوي، له دې لیست څخه څو جملې دلته د بېلګې په ډول رااخلم، نوموړی لیکي« استعداد خواندن اشعاررا ندارد لطفآ کلام بزرګان ادب دری را باتغیر کلمات بی مفهوم وبی وزن وبی قافیه نسازد ودیګر شعر نخواند»!

کېدای شي څوک په خبرو او یا شعر ویلو کې اشتبا وکړي ولسمشران، پوهان، لیکوالان، شاعران او نور هم له داسې تېروتنو مشتثنا نه دي او تېروځي، خو نه ښای دا نه بخښل کېدونکې ګناه وګڼل شي او د ګتورې نېوکې پرځای په بې سروبوله کلمو او د کوڅې په ژبه وغندل شي.

تر کومه ځایه چې د «مشوره مفید» لیکونکې له نږدې پیژنم، نوموړی نه شاعر دی، نه ادیب او دا دواړه ادعاوې د هغه په یادو جملو کې هم له ورایه ښکاري. ادیب او شاعر په داسې شېدله او شاړه ژبه نېوکه نه کوي، هغه هم د هېواد پر ولسمشر!

په پوخ باور، دلته سیاسي او نورې موخې دي چې لیکونکې یې د ولسمشر په وړاندې د کوڅې ژبې کارولو ته اړکړی دی!

که چیری ولسمشر پښتوژبی نه وای او بل څوک وای، هیڅکله به د «مشوره مفید» لیکونکې نه وای لیکلی چې ولسمشر« استعداد خواندن اشعار را ندارد..... ودیګر شعر نخواند»!

جیګپوړي چارواکي ډېر دي چې هره ورځ هذیان وایي، خو غرضي لیکوالان یې مداحې او ستاینه کوي، اپلتو او ورانکاریو ته یې لاهځوي!

د ۸ صبح په نوم رسنۍ هم په یوه مقاله کې ورته لیکنه کړې، د مقالې لیکونکی لومړی په بېلا بېلو پیرونو کې افغاني ټولنه کې د شعر په ارزښت غږېدلی او بیا یې له دغو اوږد سفر څخه پر ولسمشر باندې د ګوزار لپاره له «واو» څخه «بو» جوړکړی او په پای کې یې ولسمشر ته سپارښتنه کړې چې «جبر نیست، شعر نخوان»!

د ۸ صبح او د «مشوره مفید» لیکونکو د ناروغه اوغرضناکو څرګندونو که تېر شو، ولسمشر غني په نوموړي سیمنار کې په سیمه کې د درې ژبې د ځای او دریځ په اړه ښپساري لارښوونې کړې. ولسمشر په سیمنار کې بېخي نوي مسایل وړاندې کړي چې افغان روڼ اندي باید پرې ژور غور وکړي او د پلیټوب په برخه کې د حکومت همکار واوسي.

ولسمشر وایی«دري ژبه، د پامیر له غرونو او تخارستان کهن نه ترهندوستان او د فردوسي د فارسي د رسا او ساده ژبې نه د بېدل ترغرونو رسېدلې او پر دغو سیمو یې د فرهنګ سیورۍ خپور کړی دی. د ژبپوهنې پیاوړي څېړونکي، **د دغې ژبې د روزنې او پالنې ځای او زانګو، ننۍ افغانستان ګڼي. ازادی راډیو»**

پکار دا ده چې د مولانا د شعر د څرنګوالي او په دې اړه د غرضي نېوکو پرځای، د ولسمشر غني پورته څرګندونو ته پام شوی وای او له هغو هر اړخیز ملاتړ شوی وای.

ولسمشرپه سیمنار کې زیاتوي«ضرورت دا دی چې په هغه اندازه چې پراقتصادي، سیاسي او امنیتي برخو پانګونه کېږي، د دې وخت را رسېدلی چې په خپل فرهنګ هم پانګونه وشي. دري ژبه د فارسي د لویې سیمې د رامنځته کېدو وسیله ده چې افغانستان په دغه سیمه کې اساسي رول لري، که ګډ لید ونه لرو، هر ډول اقتصادي وده مو نه شي یوځای کولی، له کوم افراطیت سره چې مخ یو، مرمی ورته ځواب نه وایي، اساسي ټکی فکري لید لوری دی.»

ولسمشر په خپلو یادو څرګندونو کې ډېرو مهمو ټکو ته اشاره کوي، له هغې دلې:

**ـ د فارسي ـ دري ژبې د روزنې او پالنې ځای او زانګو ننۍ افغانستان دی**

**ـ ګډ فکري لیدلوری**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دلته باید، ټولې هغه لارې راوسپړل شي او اړین ګامونه واخیستل شي چې زموږ ټولنه یې ناخوالو او انقطابونو سره مخ کړې ده.
افغاني ټولنه کې له بده مرغه په تېرو څو لسیزو کې سمتي، ژبني، مذهبي او قومي مسایلو ته لمن وهل شوې او افغانان یې د یووالي پرځای، ټوپیرونو او شخړوته کېنولي. بېلابېلو توپیرونو له افغانانو د نظر ګډ لوری اخیستی دی.
ولسمشر همدې ته په اشارې سره وایی که د افغانانو په ګډ فرهنګ او ګډ تاریخ ډډه ونه شي، که د ملي ګټو او ارزښتونو پر بنسټ ګډ فکري لید لوری رامنځته نه شي، که په اقتصادي او مالي ډګر کې وده هم وشي، موږ د یوه ملت پټوګه په سیمه کې هغه ستونزې چې مخې ته پرتې دي نه شو حلولای او هغه دندې چې ور سره مخ یوو، نه شو ترسره کولای.
که مانۍ او ودانۍ هر څونه لوړې او ښکلې جوړې کړو، که د پرتوګ پرځای پتلون واغوندو او نیکټایي وتړو چې فکر بدل او اصلاح نه شي په پلازمېنه، کابل کې به د «فرخندې» د ژوندی سیځلو پشان هره ورځ ناورین زیږوو!
پر ولسمشر غني نېوکګر، د مولانا کلام د خپلو شومو موخو لپاره د یوې پلمې پټوګه کاروي، که نه د دوی اصلي موخه د مولانا کلام نه، بلکې د ولسمشر یادې څرګندونې دي.
ایران زموږ پر ځینو لیکوالو، شاعرانو او په اصطلاح روڼ اندو دومره اغیز کړی چې چمتو دي خپل ټول ملي ارزښتونه او شتمنۍ د هغه هېواد په پښو کې کېږدي او د ایران د سر نذرانه یې کړي. دوی چمتو نه دي دغه تاریخي حقیقت چې دري ژبه د افغانستان او بلخ څخه لویدیځ خوا، ایران ته تللي او هلته فارسي شوي، ومني. کله چې ویل کیږي دري ژبه د فارسي د لویې سیمې د رامنځته کېدو وسیله ده، غوږونه یې بوخیږي او د ځان او افغانستان پرځای یې پر ایران پیرزوینه او لورنه هڅیږي. د فرهنګ په برخه کې چې کوم رول لرغوني افغانستان په سیمه او د فارس او اوسني ایران په لور لوبولي، دوی یې بابیزه ګڼي او د دوی په اند یوازې پخواني فارس او اوسني ایران دی چې افغانستان او سیمه یې خړوبه کړې او نور ملتونه او قومونه هیڅ!
په سیمنار کې ولسمشر غني افغان پوهان او په تېره بیا د بلخ پوهان او روڼ اندې نویو دندو ته رابولي. ولسمشر د افغانستان او د بلخ د تاریخي برم د بېرته تازه کولو په اړه غږیږي.
ایران چې د افغانستان د ژبو او فرهنګ په غلا کولو یې صرفه نه دی کړې او د افغاني فرهنګ او تاریخ دښمن ګڼل کیږي، غواړي د بلخ د عظمت او لویا او د افغاني فرهنګ د غوړېدا او ځلا مخه ډب کړي.
کېدای شي ځیني افغانان په لویلاس نه، بلکې له هغه ځایه چې ایرانیزم یې په ځان او اروا کې رېښې ځغلولي او یوځای یې نیولي، داسې خبرې له خولې راوباسي.
همدارنګه ځیني کسان د ولسمشر د خبرو د منځپانګې او ماهیت پرځای، ظاهري بڼې اوشکلونو ته ارزښت ورکوي چې د دې دوارو تاوان هم بابیزه نه شي ګڼل کېدای!
که طالبان د افغانستان او کابل پرځای، پنجاب او اسلام اباد ته په خدمت بوخت دي، ایران پلوي افغانان بیا د کابل او بلخ پرځای، د تهران او قم مزدوری کوي، د ایران په خدمت کې لاسونه تناکې کوي او د ایراني فرهنګ لپاره تندي خولې کوي!

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ